# د امیرِ اهلسنت نه

# د اوداسه په باره کښې سوال او جواب

پښتو



پیشکش:
مجلس المدینۃ العلمیہ (دعوتِ اسلامی)
ترجمه:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوتِ اسلامی)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ؕ

# د امیر اهلِسُنَّت نه د اوداسه په باره کښې سوال او جواب

دعائے جانشینِ امیرِ اهلِسنَّت: یا الله پاکه! څوک چې دا رساله "د امیر اهلسُنَّت نه اوداسه په باره کښې سوال او جواب" اولولي یا ئې واوري، هغوئي ته د ظاهري پاکۍ سره باطني پاکي هم نصيب کړې او هغوئي بے حسابه اوبخښې.
اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د دُرُود شريف فضيلت

فرمانِ آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "ما په سورلۍ د سور کَس د جام په شان مه جوړوئ چې په سورلۍ سور کَس خپل جام د اوبو نه ډکوي بیا هغه کېږدي او سامان اوچتوي، بیا چې ورته کله د اوبو حاجت پیښ شي نو هغه څښې کَښي بیا ئې غورځوي خو ما تاسو د خپلې دُعا په اَوّل او آخر او مینځ کښې یاد ساتئ. (مجمع الزوائد، 10/239، حديث: 17256)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

سُوال: آیا قرآنِ مجید کښې د اوداسه په باره کښې حکم راغلے دے؟

جواب: د اوداسه په باره کښې په قرآن مجید کښې حُکم موجود دے د سورۃُ المَائِدہ په 6 نمبر آیت کښې دي:

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَ اَيْدِيَكُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ وَ امْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ وَ اَرْجُلَكُمْ اِلَى الْكَعْبَيْنِؕ (پ6، المائدة: 6)

[مفهوم] ترجمۂ کَنزُالایمان: " اے ایمان والوو! کله چې لمُونځ ته اودریدل غواړئ نو خپل مخ اووینځئ او د څنګلو پورې خپل لاسونه [اووینځئ] او په سرونو مسح اوکړئ او د ګیټو پورې ښپې اووینځئ" (ملفوظات امیر اهلِسنت، 457/2)

دے شوقِ تلاوت دے ذوقِ عبادت رہوں باوُضو میں سدا یا اِلٰہی

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

سُوال: بے اودسه لمُونځ کول کُفر دے که ګناه؟

جواب: که چرې جائز ګنړلو سره بے اودسه لمُونځ چا اوکړو یعني داسې ګنړل چې د لمُونځ د پاره د اوداسه ضرورت نشته نو دا کُفر دے (بهارِشریعت، 282/1، حصه:2) که چرې چا په غَلطئ کښې اوکړو نو ګناه پکښې هم نشته، البته د اودس کولو نه پس به بیا لمُونځ کول وي.

(بهارِ شریعت،705/1، حصه: 4 ماخوذاً. ملفوظات امیرِ اهلِسنت، 359/3)

سُوال: زما عمر 64 کاله دے او زه د تیرې ډیرې مودې راهسې د فالج په مرض کښې اخته یم، او په یو لاس اودس نشم کولے، دا اوفرمائې چې زه

اودس په څه طريقه اوکړم او زما د پاره څه څه رُخصَت دے؟ آيا زه به روژه هم نيسم؟ (سهيل مغل، اسلام آباد)

جواب: الله کريم دې په تاسو رحم اوکړي، د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وسيله دې الله پاک تاسو له شِفا درکړي. زړه لوئ ساتئ، دا ازميښت او امتحان دے، دې کښې هغه خوک کاميابيږي څوک چې ثابت قدم پاتې شي. امامِ عالي مقام حضرت امام حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کربلا کښې د سحر لمُونځ د جَمعې سره ادا کړے وو، د خوږو [ملګرو او خپلوانو] د شهادتونو نه پس ئې هم سر په سجده کښې کښته کړے وو. چې څنګه هم ممکن وي لمُونځ د شريعت په دائره کښې دننه ادا کول دي او د دې د پاره د لمُونځ مَسائل زده کول دي، د بهارِ شريعت د وړومبي جلد په څلورمه حِصّه کښې د مريض د لمَانځه طريقه ليکلے شوې ده. چا چې د فالج وئيلي دي کيدے شي چې هغوئي دا ګنړي چې که چرې لمُونځ نه کوي نو روژه به څنګه نيسي؟ يا څوک چې هم داسې ګنړي هغوئي دې دا ذهن کښې ساتي چې لمُونځ بيل عبادت او روژه بيل عبادت دے، داسې نه ده چې يو څيز نه کيږي نو بل څيز به هم نه کيږي، څکه دواړه ادا کول دي. الله دې نه کړي چې که چرې چا لمُونځ ادا نه کړو نو بيا به ئې هم روژه کيږي يا الله دې نه کړي که چرې چا روژه اونه نيوله او لمُونځ ئې اوکړو نو د هغه لمُونځ به ادا شي.

(د ښپو نه معذوره او د مِتيازو په مرض کښې اخته مريض د چا کټ چې هم د قبلې په لور نه دے، د لمُونځ په باره کښې د هغه رهنمائي کولو سره) (د امیرِ اهلِسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَة سره خوا کښې ناست مفتي صاحب اوفرمائيل:) د دې دوه صورتونه جوړيږي: **(1)** که چرې هغه بيا بيا مِتيازې کوي او هغه ته دومره وخت هم نه ميلاويږي چې هغه پکښې اودس اوکړي او فرض لمُونځ ادا کړي نو داسې حالت کښې به ده ته شرعي معذوره وئيل کيږي. دې کښې شرط دا دے چې کم نه کم وخت کښې يو ځل د ده عذر بياموندے شي. (بهارِ شريعت، 1/385-386 ملتقطا) څنګه چې د مازيګر لمُونځ شروع کوي نو اودس به کوي او دې کښې که اوغواړي چې څومره لمُونځونه ادا کړي نو د ماښام د لمَانځه د پاره به ورته بيا اودس کول وي. **(2)** او که چرې دا شرعي معذور نه دے يعني ده ته دومره وخت ميلاويږي چې دے پکښې فرض لمُونځ کولے شي نو بيا به دا احتياط کوي او د اودس کولو سره به فرض لمُونځ ادا کوي.

بهر حال که حالت داسې وي چې پخپله اودس نشي کولے خو بل يو کَس د اودس کولو د پاره شته نو هغه دې ورله اودس اوکړي کَنې بيا به ورله تيمم کول وي او چا ته دې اووائي چې د کټ مخ ورله قبلې طرف ته واړوي او په اِشارو دې لمُونځ ادا کړي.

(امیر اهلِسنت دَامَتۡ بَرَکَاتُھُمُ الۡعَالِیَه اوفرمائیل:) که چرې په ملاسته د لمُونځ ادا کولو د پاره مجبور وي نو کټ داسې اچول دي چې د ده ښپې قبلے طرف ته وي.[1] او چې دومره وخت نه میلاویږي چې دا اودس اوکړي او لمُونځ ادا کړي نو د دې نه مُراد د فرض لمُونځ ادا کولو وخت دے، دې کښې د سنتو او نوافلو ادا کولو وخت شامل نه دے، یعني چې اودس ئې اوکړو او کم نه کم دومره وخت ورته میلاؤ شو چې فرض لمُونځ ادا کولے شي نو اودس دې اوکړي او فرض لمُونځ دې ادا کړي. (ملفوظاتِ امیرِاهلسنت ، 406/6)

سُوال: آیا د کچه پیاز خوړلو سره اودس ماتیږي؟ (نور العین)

جواب: د کچه پیاز خوړلو نه ځان ساتل ښه دي چې دې سره د خُلې نه بوئ ځي، البته خوړل ئې جائز دي او دې سره اودس هم نه ماتیږي. په اینګولي [ترکارئ] کښې پوخ شوي پیاز او اوکه خوړے شئ چې د پخیدو نه پس د دې بوئ ختمیږي او د دې خوړلو سره د خُلې نه بوئ هم نه ځي.

(ملفوظات امیرِ اهلِسنت ، 463/6)

1 ... که چرې مریض د کښیناستو طاقت هم نه لري نو په ملاسته دې په اِشاره لمُونځ اوکړي، که په ښې او که په ګس اړخ څملې خو قبلې ته دې مخ کړي که ملا پوره په زمکه اولګوي او قبلې ته ښپې کړي خو ښپې دې نه غزوي، چې قبلې طرف ته ښپې غزول مکرو دي بلکه زنګونان دې اودروي او د سر لاندې دې تکیه وغیره کیږدي او سر دې اوچت کړي چې مخ ئې قبلې طرف ته شي او داسې ملا په زمکه لګولو سره لمُونځ کول غوره دي. (در مختار، 686/2-687- بهارِ شریعت، 722/1، حصه: 4)

سُوال: د اودس کولو نه مخکښې د اوداسه اندامونه لَمْدَوَل څنګه دي؟

جواب: د اودس کولو نه مخکښې د اوداسه اندامونه لَمْدَوَل مستحب دي. (بهارِ شریعت، 297/1، حصه: 2) خاص طور په یخنۍ کښې زیات بنه دي چې دې ورځو کښې څرمن سپوره وي او بعضې ځایونه راکَوَنج [راکوَت] کیږي ځکه که چرې په تَوَجُّه سره اودس اونکړے شي نو بعضې حصه اوچه پاتې کیږي. که چرې مونږه د مخکښې نه د اوداسه ځایونه لمْده کړو نو دې سره به څرمن نرمه شي او اوبه به پرې زر بهیږي، د کومې سره چې به اودس هم زر اوشي. هر یو کَس ته د دې مُستَحَب عمل عادت جوړول پکار دي. (ملفوظات امیرِ اهلِسنت ، 463/6)

سُوال: کله چې زه اودس کووم نو ما ته داسې وَهم کیږي چې فلانکے ځائے اوچ پاتې شوے دے په دې وجه به ستا لمُونځ نه کیږي، لِهٰذا زه د دې وهم لرې کولو د پاره هغه اندام بیا بیا وینځم د کوم سره چې اوبه ډیرې زیاتې ضائع کیږي. مهرباني اوکړې په دې باره کښې زما رهنمائي اوکړې.

جواب: اصل کښې د وسوسو پیروي کول د شیطان تابعداري ده. داسې کولو سره د شیطان مقصد پوره کیږي، ځکه وسوسې ختمې کړئ او د سنت مطابق درې ځله خپل د اوداسه اندامونه وینځئ. البته که چرې واقعي تاسو په دې پوره پوهه ئې چې د یو اندام یوه حصه اوچه پاتې شوې ده نو اوس دا بیا

وينځئ. چې تاسو د اوداسه اندامونو اووينئ چې اوبه پرې بهيږي، اندام هم لوند په نظر راځي او نه په اندام داسې يو کلک څيز لګيدلے وي کوم چې څرمنې ته اوبه نه پريږدي نو ستاسو د اوداسه اندامونه وينځلے شو. اوداسه کښې د څرمنې دننه حصه وينځل نه وي بلکه د څرمنې بهَره حصه وينځل وي او دې کښې د څرمنې ويښته وينځل هم شامل دي. تاسو ته به داسې خپل ذِهن جوړول وي ګڼې تاسو ځپله پوهيږئ چې دا وَهم دے او د دې پيروي کول احتياط نه دے بلکه د شيطان تابعداري ده ځکه تاسو ته په وَهم د عمل کولو نه ځان ساتل پکار دي. اللّٰه پاک دې تاسو ته د وسوسو نه خلاصے در نصيب کړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

(ملفوظات امیرِ اہلِسنت، 464/6)

سُوال: د روژه ماتيدو له ويرې د اودس کولو په وخت خُله نه وينځل يا پوزه کښې اوبه نه اچول څنګه دي؟ (پوښتنه کوونکې: زينب عطاريه)

جواب: په اوداسه کښې د پوزې نرم هډوکي ته اوبه رَسَوَل او بنه صفا کول، دغه شان د حلق بيخ ته اوبه رَسَوَل سُنَّتِ مُؤَكّده دي. داسې په اوداسه کښې درې درې ځله اندامونه وينځل هم سُنَّت دي. (در مختار مع رد المحتار، 253/1) لِهٰذا د خُلې نه وينځلو او پوزه کښې د اوبو نه اچولو سره به د اوداسه فرض خو ادا شي، خو د دې سُنَّت به پاتې شي او که چرې غسل کښې ئې خُله

وینځل یا پوزه کښې اوبه اچول پرېښوده نو غسل به نه کېږي، ځکه چې غسل کښې دا فرض دي. (درمختار، 311/1) ځکه په احتیاط سره خُله هم وینځل دي او پوزه کښې اوبه اچول هم، ګنې هسې نه چې د روژې بچ کولو په خیال کښې به اودس او غسل ضائع کړئ!

(ملفوظات امیرِ اهلِسنت ،قسط نمبر156، ص 12)

سُوال: زما د مور د شهادت [د ښي لاس غټې ګوتې پسې] ګوته کټ شوې ده کله چې هغه د اوداسه د پاره په چونګ کښې اوبه راخلي نو هغه اوبه توئيږي، نو آيا هغه په ګس لاس خُله وينځلے او پوزه کښې اوبه اچولے شي؟

جواب: که عذر وي نو داسې کولے شي. (ملفوظات امیرِ اهلِسنت ،قسط : 182، ص 9)

سُوال: آيا د اوداسه نه بغير اذان کولے شي؟

جواب: غوره دا ده چې اودس اوکړے شي او اذان اوکړے شي.[1]

(ملفوظات امیرِ اهلِسنت ،قسط نمبر 182، ص 5)

سُوال: که چرې څوک د لامبلو نه پس اودس کوونکے اووينې او اووائي "دا د جهالت نښه ده" نو د ده داسې وئيل څنګه دي؟

---

1… د بے اودسه اذان صحيح دے، (درمختار، 75/2) خو بے اوداسه اذان کول مکروه دي. (حاشية الطحطاوي علي مراقي الفلاح، ص 199) فتاویٰ رضويه شريف کښې دي: بے اوداسه اذان جائز دے د دې معنیٰ دا ده چې اذان به اوشي خو داسې کول نه دي پکار، حديث کښې د دې نه منع فرمائيلے شوې ده. (فتاویٰ رضويه، 373/5)

جواب: د پوره غسل کولو سره اودس هم کيږي بيا اودس ضروري نه دے، (مرآۃالمناجيح، 256/2) ځکه که چرې چا د غسل نه پس په دې سوچ اودس اوکړو چې د غسل سره اودس نه کيږي نو دا د معلوماتو د کمي نتيجه ده او په دې طور دې عمل ته "جهالت" وئيل صحيح دي، خو مطلقاً چا ته داسې وئيلو سره به د هغه زړه خفه شي، ځکه يو مسلمان ته داسې نه دي وئيل پکار، بلکه په ښه انداز کښې صحيح مسئله ښودل پکار دي مثلاً چې تا پوره غسل کړے دے نو د غسل سره سره ستا اودس هم شوے دے، ځکه تا ته د غسل نه پس د اودس کولو حاجت نشته.

(ملفوظات اميرِ اهلِسنت ،قسط نمبر178، ص 8)

سُوال: آيا د سپکو وژلو سره اودس ماتيږي؟ (د سوشل ميډيا په ذريعه پوښتنه)

جواب: د سپکو وژلو، داسې د چيلي ذبح کولو سره اودس نه ماتيږي. نَعُوْذُ بِاللّٰه که چرې اوداسه کښې يو کَس څوک اووژني نو دې سره به هم اودس نه ماتيږي. د چا وهلو ډبولو سره اودس نه ماتيږي.

(ملفوظات اميرِ اهلِسنت ،قسط نمبر248، ص 24)

سُوال: که د تسبيح په دانو لفظ "اللّٰه" او "محمد" ليکلے شوے وي نو آيا دې له بے اوداسه يا د نا پاکئ په حالت کښې ګوتې وروړے شي؟

جواب: داسې تسبيح له بے اودسه ګوتې وروړل جائز دي، خو که دا په جيب

کښې وي نو غسل خانې ته هم تلل پيښيږي يا خيرن لاس هم دې سره لګيدے شي. نو ښه خبره دا ده چې داسې تسبيح اونه ساتلے شي، که چرې وي نو دا په کور کښې يو ميخ ته زوړندې کړئ او کله چې په کور کښې ئې په دې وظيفه وغيره اوکړئ، چې داسې هيڅ قسمه بے ادبي اونشي. خو چې بيا هم د دې دانو سره بيا بيا ګوتې لګي نو د دې د ليک اثر به په لاس راځي او کله چې تاسو لاس وينځئ نو هغه سياهي به کوم کوم ځائ ته ځي تاسو پوهيږئ. ځکه داسې تسبيح جوړول نه دي پکار، خو زمونږ د پاره د دې مخ نيوے کول ګران کار دے، ځکه مونږ له پکار دي چې دا وانخلو. آؤ! که چرې ډالئ کښې ميلاؤ شوې وي نو ضائع کول نه دي پکار، بلکه په احتياط سره استعمالول پکار دي، با ادب با نصيب.

(ملفوظات اميرِ اهلِسنت، 364/5)

سُوال: د ګنجې توب ښکار [يعني په سر وينښته نه لرونکي] بعضې خلق مصنوعي وِګ لګوي، آيا دې سره اودس او لمُونځ کيږي؟

(وسيم رضا عطاري. تِوبه دار السلام)

جواب: که چرې وِګ داسې وي چې د هغې د لرې کيدو سره اوداسه کښې مسح کيدے شي نو بيا ئې لرې کول ضروري دي. البته که داسې ”وِګ“ وي کوم چې نښتے وي د هغې لرې کول ممکن نه وي نو دې حالت کښې د اوداسه کولو په وخت دې بره مسح اوکړے شي او غسل کښې دې هم د بره

نه وینځلے شي.[1] (ملفوظات امیرِ اهلِسنت ، 266/5)

سُوال: آیا د اودس کولو سره لمُونځ کول به د تَحِیَّةُ الوُضُو ځائے اونیسي؟ دې سره به د نفلو ثواب میلاویږي که نه؟

جواب: که چرې مکروه وخت نه وي نو تَحِیَّةُ الوُضُو اوکړئ ځکه چې تَحِیَّةُ الوُضُو کښې افضل دا دي چې هغه وخت ادا کړے شي چې د اوداسه لوندوالے باقي وي. (فتاوىٰ هندية، 8/1) [2] (ملفوظات امیرِ اهلِسنت ، 227/6)

سُوال: د سُنتو ادا کولو نه پس که اودس مات شي نو د اودس کولو نه پس به بیا هغه سنت کول وي یا هغه سنت به کافي وي؟

(پوښتنه کوونکے: خالد محمود عطاري، قصور پنجاب)

جواب: هغه سنت کافي دي. (ملفوظات امیرِ اهلِسنت ، 218/6)

---

1...د انساني ویښتو "وِګ" استعمالول یا د دې ویښتو پیوندکاري کول حرام دي- البته که چرې مصنوعي ویښته وي یا د یو داسې ځناور ویښته وي چې هغه نجس العین نه وي نو د دې ویښتو لګول جائز دي. (شعبه ملفوظاتِ امیرِ اَهلِسُنّت)

2...سرکار مدینه صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائیل: څوک چې اودس اوکړي او ښه (پوره) اودس اوکړي او د ظاهر او باطن سره متوجه کیدو سره دوه رکعته نفل اوکړي د هغه د پاره جنت واجب کیږي. (مسلم، ص118، حدیث: 553) د بهارِ شریعت د وړومبي جلد په 675 صفحه دي: د اوداسه نه پس د اندامونو اوچیدو نه مخکښې دوه رکعته نفل کول مستحب دي. (تنویر الابصار مع درمختار، 563/2) که د اوداسه نه پس فرض وغیره چا اوکړه نو هغه به د تَحِیَّةُ الوُضُو برابر شي. (ردالمحتار، 563/2)

سُوال: آیا د اودس کولو په وخت هم اوبه ضائع کیدے شي؟

جواب: آؤ جي! که چرې یو کَس د نفل لمُونځ د پاره اودس کوي یا هسې اودس کښې د پاتې کیدو د پاره اودس کوي حالانکه دا یو مُستَحَب کار دے په دې به ثواب میلاویږي او په نه کولو هیڅ ګناه نشته، خو که چرې دا د اوداسه د پاره کښیني او وړومبے نلکا بیرته کړي بیا لستونړي اوچتوي او بیا د دې نه پس مسواک خله کښې لړ شان وهي او نلکې ته ئې وینځي او دغه وخت کښې پرله پسې اوبه بهیږي نو دې ته به د اوبو ضائع کیدل وئیلے شي. ما ډیر خلق د اودس کولو په وخت په بے دریغه اوبو بَهیولو لیدلي دي، بعضې خلق خو داسې هم وي چې د هغوئي سره خو د اوبو ضائع کولو هډو احساس نه وي، که چرې هغوئي پوهه کړے شي چې جناب! د اودس په وخت نلکه لږه شان بیرته کړئ نو کیدے شي چې هغوئي ته دا هم معلومه نه وي چې لږه نلکا بیرته کول څه ته وائي او زیاته بیرته کول څه ته وائي! آؤ هغه ته به د پیسو ضرور پته وي چې لږې څه ته وائي او ډیرې څه ته وائي! حالانکه اوبه د پیسو نه زیاتې قیمتي دي. که د اوبو د قیمت نه ځان خبرول غواړئ نو داسې خیال اوکړئ چې تاسو په څه شړه (صحرا وغیره) کښې ئې او ستاسو سره د سرو زرو یوه خخته هم وي خو اوبه نه وي او تاسو ته سخته تنده لګیدلې وي چې د هغې له وجې ستاسو په ژوند راغلې وي

[يعني داسې ښکاري چې د تندې د لاسه مرئ] اوس به تاسو د خپل ژوند بچ کولو د پاره د سرو زرو خختې ورکولو سره د اوبو اخستلو کوشش هم کوئ چې څوک دا خختې واخلي او په بدل کښې تاسو له يو ګلاس بلکه نيم ګلاس اوبه درکړي چې ستاسو ژوند بچ شي. (ملفوظات اميرِ اهلِسنت، 17/5)

د اعلٰی حضرت امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُاللهِعَلَيۡه سره څه خلق ناست وو چا د خښلو د پاره اوبه راواخستې او اوئې خښلې او نيم ګلاس ئې توئې کړې. د دې مطلب دے چې د بچ شوؤ اوبو توئې کولو بيماري د ډير مخکښې نه ده، نن سبا هم خلق لږې اوبه اوخښي او پاتې توئې کړي. د هغه په اوبو توئ کولو اعلٰی حضرت رَحۡمَۃُاللهِعَلَيۡه مدني ګل ورکړو او پوهه ئې کړو او واقعه ئې بيان کړه: د هارون رشيد په خدمت کښې به عُلَمائے کِرام موجود وو، يوه ورځ هارون رشيد تږے شو، د خښلو د پاره ئې اوبه اوغوښتې، خښلې ئې چې يو عالم صاحب اوفرمائيل: اودريږئ! اول دا اووائې چې که چرې تاسو په يوه صحرا يا يو داسې ځنګل يا بيابان کښې ئې او داسې تږې شئ څنګه چې اوس ئې خو د خښلو د پاره اوبه نه ميلاويږي او ستاسو په ژوند راشي [يعني ژوند ته مو خطره شي] نو دا اوبه به تاسو په څومره قيمت اخلئ؟ هارون رشيد اووئيل: په نيم سلطنت يعني نيم حکومت ورکولو به اوبه اخلم او خپل ژوند به بچ کووم. په جواب اوريدلو هغه عالم صاحب

اوئيل: اوبه اوڅښىئ. کله چې هارون رشيد اوبه اوڅښلې نو عالم صاحب بيا اوفرمائيل: کومې اوبه چې اوس تاسو څښلې دي که چرې دننه پاتې شي او د مِتيازو په ذريعه بهر را اونه اووځي او بيا ستا ژوند ته خطره شي نو د دې په علاج کولو د څومره خرچې کولو د پاره تيار ئې؟ هارون الرشيد جواب ورکړو: که چرې ما ته ټول سلطنت هم ورکول وي نو زه به ئې ورکړم او خپل ژوند به بچ کړم. هغه عالم صاحب اوفرمائيل: بادشاه سلامته! تاسو چې په دې خپل حکومت څومره هم اوغواړئ، ناز اوکړئ خو د دې قيمت دا دے چې يو ځل د اوبو په ګلاس نيم خرڅ شي او په دويم ځل په علاج پوره خرڅ شي. ( ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت ،ص 375-376. تاريخ الخلفاء، ص 293 ملخصًا)

واقعي د اوبو قدر هلته وي چرته چې د اوبو کمے وي، زمونږ سره د الله پاک د نعمتونو قدر نشته. د اوبو د يو يو څاڅکي حساب ورکول دي ځکه چې کله هم اودس کوئ نو نلکا دومره بيرته کوئ څومره چې ضرورت وي، زياته بيرته کول او اوبه ضائع کول خطرناک دي او بيا د جمات او مدرسې اوبه کومې چې وقف وي، هغه ضائع کول نور هم سخت دي، د دې مسئلې هم ډيرې دي، کيدے شي چې خلق خپلو کورونو کښې اوبه کمې استعمالوي. جمات کښې زياتې استعمالوي. کور کښې چې کله هم لامبئ نو د شاور په ذريعه څومره اوبه ضائع کوئ. چا ته څه پته ده! (ملفوظات اميرِ اهلِسنت ، 18/5)

سُوال: هغه کومې هستئ دي چې د هغوئي په اوده کيدو اودس نه ماتيږي؟ آيا که چرې مونږه اودس اوکړو او اوده شو نو سحر چې راپاځو زمونږ اودس به باقي وي؟

جواب: د اَنبيائے کِرامو عَلَيۡهِمُ السَّلام اودس د اوده کيدو سره هم نه ماتيږي ځکه چې د هغوئي سترګې اوده وي خو زړه ئې ويخ وي. (بخاري، 297/1، حديث: 857ماخوذاً) باقي د عامو خلقو اوده کيدو سره اودس ماتيږي خو په خوب سره د اودس ماتيدو شرطونه دي لکه څنګه اوده شو؟ غافل وو که نه؟ د ناستې ځائے ئې په زمکه جُخت لګيدلے وو که نه؟ که چرې د ناستې ځائے ئې په زمکه جُخت لګيدلے وي او سترګې ئې ورغلې لکه څنګه چې په کرسئ ناست وي او خوب ورشي نو اودس به ئې نه ماتيږي او که د ناستے ځائے ئې په زمکه جُخت لګيدلے نه وي نو اودس به ئې مات شي. د دې پوره تفصيل د "نماز کے اَحکام" کتاب کښې " وضو کا طریقه " نومې رساله کښې شته. (د امير اهلِسنّت دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَة سره خوا کښې ناست مفتي صاحب اوفرمائيل:) که چرې څوک داسې څملاست چې خوب کښې ئې رُکاوټ (خنډ) وي لکه په ولاړه ولاړه اوده شو، دې حالت کښې د ناستے ځائے جُخت نه دے لګيدلے خو بيا به ئې هم اودس نه ماتيږي.

(فتاوئ رضويه، 488/1، جز: الف ماخوذاً. ملفوظات اميرِ اهلِسنت، 478/1)

سُوال: زما تعلق د شوبز سره دے. مونږه اَلْحَمْدُلِلّٰه! پينځه وخته لمُونځ کوو. که چرې د اوداسه په حالت کښې مو ايکټنګ [د هنر مندئ کردار مو ادا] اوکړو نو آيا په هغه اودس لمُونځ کولے شو؟ دويمه پوښتنه دا ده چې خلق کنزلې کوي، غلط الفاظ استعمالوي او دروغ وائي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! وي خو مسلمانان خو د هغوئي سره دا غم نه وي چې دا څومره لويه ګناه ده. تاسو دې باره کښې څه اوفرمائې.

(عالمي مَدَني مَرکز فيضانِ مدينه کراچئ ته د راغلې يو فلمي ايکټر پوښتنه؟

جواب: دا ښه خبره ده چې ايکټنګ [يعني د اداکارئ هنر مندي] بد ګڼړئ چې دا چرته اودس خو نه ماتوي؟ خو هِمَّت اوکړئ د ايکټنګ غلط کار پرېږدئ چې هډو دا مسئله نه راځي. د ايکټنګ سره اودس نه ماتيږي. پاتې شوه خبره د دروغو وئيلو او کنزلو کولو، نو دا خبرې اوس په ډيره بدقسمتئ سره زمونږ د معاشرې حصه جوړه شوې دي حالانکه دا د ګناه کارونه دي ځکه مسلمانانو له پکار دي چې دروغ نه وائي، کنزل نه دي کول پکار او غيبت نه دے پکار. دغه شان د بدګمانئ او لوظ ماتولو په شان د ګناهونو نه هم مسلمانانو له ځان بچ ساتل پکار دي.[1]

( ملفوظات اميرِ اهلِسنت ، 84/6)

1…د دروغو، غيبت، په زوره د خندا، د (لغو) شعر، د اوبن غوښې خوړلو او د هرې ګناه نه پس اودس کول مستحب دي- (درمختار، 206/1)

سُوال: که چرې په ټینکۍ کښې چینډخ پریوځي نو آیا د هغې اوبه د اوداسه د پاره استعمالول جائز دي؟ (د ایس ایم ایس په ذریعه پوښتنه)

جواب: د ”فتاویٰ امجدیه“ د اوّل جلد په 20 صفحه دي: د اوبو چینډخ بلکه د اوچې هم، چې ډیر غټ نه وي کوم کښې چې بهیدونکې وینه وي، که چرې کوهي کښې مړ شي یا مړ ورته پریوځي بلکه اوپړسیږي نو بیا هم اوبه پاکې دي او په دې اودس او غسل کول جائز دي. خو کله چې پوتې پوتې (ټوټې ټوټې) شي او اجزاء (ټوټې) ئې اوبو کښې میلاؤ شي نو هغه اوبه څښل حرام دي. او که چرې د اوچې چینډخ کوم کښې چې بهیدونکې وینه وي، اوبو کښې مړ شي نو نجس (یعني ناپاکې) به شي.

(ملفوظاتِ امیرِ اهلِسنت، 342/4)

سُوال: آیا بے اودسه دُرُودِ شریف لوستے شي؟

جواب: بے اودسه دُرُود شریف لوستے شي. ” د قرآنِ پاک تلاوت هم کولے شي البته بے اودسه قرآنِ پاک له ګوتې نشې وروړے.

(ملفوظاتِ امیرِ اهلِسنت، 475/2)

سُوال: د ګرځیدو، د پیزار پښیو کولو سره یا بے اودسه قرآنِ پاک لوستل څنګه دي؟

جواب: بے اودسه قرآنِ پاک لوستل جائز دي خو بے اودسه قرآنِ کریم له

لاس وروړل جائز نه دي. (درمختار مع ردالمحتار، 348/1) د د پیزار پنبپو کولو سره قرآنِ کریم لوستو کښې هیڅ باک نشته. (ملفوظات امیرِ اهلِسنت، 511/3)

سُوال: د پیاز کټ کولو په وخت چې کومې اوښکې بهیږي آیا د هغې سره اودس ماتیږي؟ او که چرې دا اوښکې په جامو پریوځي نو آیا جامې به بیلماځه شي؟

جواب: د پیاز کټ کولو په وخت چې کومې اوښکې بهیږي هغه پاکې وي، په هغې اودس نه ماتیږي او نه پرې جامې بیلماځه کیږي.

(ملفوظات امیرِ اهلِسنت، 463/3)

سُوال: نن سبا چې کومه نکریزه لګولے کیږي هغه په یوه ورځ کښې د لاسو نه پوټکي راوَلاړوي او لرې کیږي نو آیا د دې لګولو سره اودس او غسل کیږي؟

جواب: کومه نکریزه چې کلکه په لاسونو پورې نښلي، داسې نکریزه مه لګوئ ځکه چې تر څو پورې هغه نکریزه کلکه نښتې وي اودس نه کیږي او که اودس نه وي شوے نو لمُونځ به هم نه کیږي. دغه شان که فرض غسل ئې اوکړو نو غسل به هم نه کیږي په دې وجه داسې نکریزه دې اولګولے شي چې کلکه نه نښلي. کومه نکریزه چې مونږه په کیره لګوو دا کلکه نه نښلي او کومه چې زنانه لګوي هغه نښلي ځکه په کیره لګوونکي

به چرې هم دا نه لګوي. ( د امیر اهلِسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَہ په خوا کښې ناست مفتي صاحب اوفرمائیل:) په ورومبي ځل خو هره نکریزه کلکه نښلي او هغه لرې کیږي هم خو کیمیکل والا ډیر کون نکریزې داسې وي چې کله هغه اولګوې او بیا لاسونه وینځې نو د دې نه پس رنګ په نظر راځي کوم چې په ظاهره رنګ وي خو کله چې زنانه لوښي وینځي یا هسې لاس وینځي نو هغه د پوټکو په شکل کښې لرې کیږي نو د داسې قسمه نکریزو لګولو سره د اوداسه مسئلې پیدا کیږي او د داسې قسمه نکریزو په باره کښې د دار الافتا اهلِسنت فتویٰ " شیطان کے بعض ہتیار" نومې رسالې په آخري مخونو مسئلې موجودې دي. زنانه د نکریزو لګولو شوق لري او دې د پاره باقاعده طور اهتمام کوي نو هغوئي له بغیر د کیمیکل نه داسې نکریزې لګول پکار دي کومې چې کلکې په لاسونو پورې نه نښلي. (امیر اهلِسنت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَہ اوفرمائیل:) نن سبا ترقي زیاته شوې ده ګنې مخکښې به ماشومانو ډکې ډکې نکریزې جوړولې او خپل مینځ کښې به ئې د یو بل په لاسونو نرې ګلونه وغیره جوړول او هغه وخت کښې د نکریزو مسئلې هم نه وې بس چې د نکریزو لګولو نه پس به ئې لاسونه وینځل نو رنګ به شو، چې نکریزه تیز رنګ راپریږدي دې د پاره به ئې بیا بیا خپل موتې پرانستل او بندول او بعضو خو به د شپې نکریزه اولګوله او

موتې به ئې بند کړه او په ختو [یعني د کپړو په ټکړو] به ئې اوتړل او دغه شان به د نکریزو تیز رنګ راوتلو. اوس خلق وائي ګراني ده خو چې په نکریزه څومره فالتو خرچه کوي دې طرف ته پام نه کوي ولې مخکښې په نکریزو د دومره خرچې کولو هډو سوچ نه وو. اوس هم نارمل نکریزه میلاویدے شي خو د هغې په جوړولو به دومره خواري څنګه کوي. مخکښې به ئې څکه دومره خواري کوله چې کون والا نکریزې به نه وې اوس میلاویږي او د الله پاک نه ویره هم کمه شوې ده نو څکه زنانه دا نکریزې استعمالوي. ما د نکریزو مسئله د دارُالإفتاءِ اهلِسُنَّت فتوې په رنړا کښې بیان کړې ده. داسې نکریزې نه دي لګول پکار کومې چې د پوټکو کولو سره لرې کیږي. (ملفوظات امیرِ اهلِسنت ، 47/3)

سُوال: آیا د ډِرپ خیژولو سره اودس ماتیږي؟

جواب: که چرې د ډِرپ خیژولو سره دې کښې وینه اوخته نو اودس به ماتیږي او که چرې وینه اونه ختله نو اودس به نه ماتیږي. که چرې انجکشن لګولو کښې دومره وینه اووتله چې اوبهیږي نو اودس به ماتیږي ګنې د انجکشن لګولو سره هم اودس نه ماتیږي. البته که چرې د ټیسټ کولو د پاره وینه ویستلے شوه نو اودس به ماتیږي. د شوګر ټیسټ کولو د پاره ګوته په ستَنه وهې نو وینه بهیږي نه، خالي را اووځي نو په راوتلو اودس نه ماتیږي

البته که دومره وه چې هغه پاکه نکړې نو بهیږي به، نو بیا اودس ماتیږي.

(د امیرِ اهلِسنت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَة سره خوا کښې ناست مفتي صاحب اوفرمائیل:) اُصول دا دي چې د کوم ځائے نه وینه اوځي چې د هغه ځائے نه اووتله او په داسې ځائے اوبهیدله د کوم ځائے چې په اودس یا غسل کښې وینځل فرض دي نو دې حالت کښې به اودس مات شي. (فتاوئ هندیه، 10/1)

( په دې امیر اهلِسنت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَة اوفرمائیل:) دلته صرف اُصول بیانیدے شي ځکه چې شوګر ټیسټ کښې د چا وینه لږه راووځي او د چا دومره ډیره چې د ستَنې لګیدو سره سمه راخوټکیږي [یعنې ډیره بهیږي].

(ملفوظات امیرِاهلِسنت، 43/3)

سُوال: آیا واش روم کښې د لاسونو وینځلو په وخت دُعا یا دُرُدو شریف لوستے شي؟

جواب: اټیچ باتھ یعني چرته چې د حمام سره ډبلیو سي په نظر راځي، هلته هیڅ هم نشي وئیلے، اودس هم کوئ نو څه نه شئ لوستلے، لِهٰذا د اودسه نه مخکښې بِسمِ الله شریف یا څه هم چې لولئ بهر ئې اولولئ بیا دننه په چپه خُله اودس اوکړئ. (ملفوظات امیرِ اهلِسنت، 134/3)

(یوه بله مدني مذاکره کښې ئې اوفرمائیل چې) نن سبا پیسو والا خلقو خپلو کورونو کښې د هر قسمه سهولت پوره انتظام کړے وي او ښه ډیکوریشن

[د ښکلا ځلا کار] ئې کړے وي. دغه شان درمیانه طبقې خلقو او خوک چې تش په نوم غریبانان وي د هغوئي په کورونو کښې هم ډیکوریشن شوے وي خو د اوداسه ځائے پکښې نه وي. د دعوتِ اسلامي دیني ماحول سره تړون لرونکو بعضې خلقو په کورونو کښې هم د اوداسه ځائے نه وي حالانکه کورونو کښې د اوداسه ځائے جوړولو بیا بیا ترغیب ورکړے شوے دے او د رهنمائي د پاره د مکتبة المدینه په چاپ شوي "وضو کا طریقه" نومې رِساله کښې د اوداسه کولو د ځائے نقشه هم چاپ کړے شوې ده. عام طور په کورونو کښې په بیسن کښې اودس کولے شي او بیسن د واش روم سره جوړ کړے شوے وي. یاد ساتئ! که چرې بیسن د واش روم سره جوړ شوے وي نو د اودس کولو په وخت "یَاقَادِرُ" او د اودس کولو نه مخکښې بِسۡمِ الله نشي وئیلے. ځکه چې د اودس کولو نه مخکښې "بِسۡمِ الله" لوستل مُستَحَب دي او صرف د الله پاک نوم اخستل سُنّتِ مُؤکَّده دي. (بحرالرائق، 39/1. حاشیة الطحطاوی علی مراقی الفلاح، ص 67) لِهٰذا په واش روم کښې په لګیدلي بیسن د اودس کولو له وجې که چرې د هغې د پریښبودو عادت جوړ کړے شي نو ګنهګار به شي، ځکه په داسې حال کښې به د "بِسۡمِ الله" وئیلو د پاره د واش روم نه بهر راوتل ضروري شي. (ملفوظات امیرِ اهلِسنت، 213/1)

سُوال: كه چرې مونږ ته دا پته نه وي چې زمونږ اودس شته او كه نه نو آيا اوس به مونږ د لمُونځ د پاره اودس كوو؟ (د ايس ايم ايس په ذريعه سوال)

جواب: كه چرې دا پته وي چې اودس مو كړے وو او اوس د اودس ماتيدو داسې يقين وي چې د قسم خوړلو سره داسې وئيلے شئ چې زما اودس مات شوے دے نو داسې حالت كښې به د لمُونځ د پاره اودس كول وي. كه چرې دې خبره كښې شك وي اودس مې كړے وو او كه نه، اوس به اودس كول وي. (درمختار، 310/1) البته كه اودس كول درته خو ياد وي خو دا وسوسه راشي چې د اودس كولو مې ډير وخت شوے دے اودس به مات شوے وي نو داسې اودس نه ماتيږي. (بهارِ شريعت، 311/1، حصه: 2. ملفوظات اميرِ اهلِسنت، 360/3)

سُوال: يو اسلامي ورور د سترګې آپريشن كړے دے نو اوس د آپريشن نه پس د هغه د سترګې نه كه اوبښكې يا كومه دوائي چې پكښې واچوي هغه راووځي او په جامو پريوځي نو آيا جامې به ناپاكه كيږي او اودس به ماتيږي؟

جواب: كه چرې پاكه دوائي ئې سترګو كښې اچولې وي او هغه راپريوته نو هغه پاكه ده. د خوګ سترګې اوبښكه چې تر څو د سترګې د دائرې دننه ده پاكه ده او دې سره اودس هم نه ماتيږي خو چې كله دا د دائرې نه بهر راووځي نو بيا به اودس ماتيږي او دا اوبښكې هم نا پاكه دي چې د مرض له

وجې راوتې وي. بهر حال د خوګ سترګې نه د مرض په وجه چې کومې اوښکې بهيږي هغه ناپاکه دي او اودس ماتوي. (ملفوظات امیرِاھلِسنت ، 360/3)

سُوال: په ولاړه اودس کول څنګه دي؟ (د فيس بُک په ذريعه سوال)

جواب: جائز دي خو مستحب دا دي چې په ناسته اودس اوکړې.

(بهار شريعت ، 296/1، حصه: 2) (ملفوظات امیرِ اھلِسنت ، 488/3)

سُوال: د مِتیازو څاڅکو مرض په وجه ډير لمُونځونه پاتې کيږي، د دې مسئلے حل اوښائې؟

جواب: ډاکټر يا حکيم له لاړ شئ، دا مسئله واقعي ډيره ازمينښت والا ده خو د دې په وجه د لمُونځونو قضا کيدل ډيره د افسوس خبره ده ځکه چې شريعت په هره مسئله کښې زمونږه رهنمائي کړې ده خو مونږه د دين نه د لرې والي او بے علمئ په وجه په دې عمل نه کوو او په قسما قسم پريشانو کښې د اخته کيدو سره لمُونځونه هم قضا کوو. د دې مسئلې حل کولو د پاره به تاسو ته په خپل کيفيت غور کول وي. که بيا بيا څاڅکي راځي، هوا خارجيږي يا زخم بهيږي [يعني وينه وغيره ترې ځي] نو داسې مريض به د يو لمَانځه نه تر بل لمَانځه پورې مثلاً د مازيګر نه تر ماښامه انتظار اوکړي او په خپل کيفيت باندې دې غور کوي چې څاڅکي يا هوا اودريږي يا که زخم وي چې د هغې بهيدل بند شي، دې وخت کښې که دومره مهلت هم نه وي چې اودس

اوکړي او فرض لمُونځ ادا کړي نو اوس داسې مريض ”شرعي معذوره“ شو.
د ده په باره کښې حکم دا دے چې دے دې اودس اوکړي او د بل لمُونځ
راتلو نه مخکښې مخکښې دې لمُونځ اوکړي که د ده خاځکي ولې نه راځي،
هوا ترې ځي يا ئې زخم بهيږي [يعني د زخم نه ئې وينه وغيره هم ترې روانه
ده]، د ده د هغه وخت لمُونځ اوشو. اوس چې څنګه د ماښام د لمُونځ وخت
شو، د ده اودس مات شو. اوس دې د ماښام د لمُونځ د پاره نوے اودس اوکړي.

کله چې د لمُونځ وخت شي، د هغه لمُونځ ادا کولو د پاره دې اودس
اوکړي او د هغه لمُونځ ادا کولو نه علاوه چې څومره کيدے شي قضا
لمُونځونه او نفلونه وغيره کولے شي، که د يو لمُونځ په پوره وخت کښې يو
ځل يو څاڅکے راغلے بيا به هم معذوره وي. آؤ که چرې د يو لمُونځ ټول
وخت داسې تير شو چې يو ځل هم څاڅکے رانغلے نو اوس هغه معذوره نه
دے پاتې. بيا که څاڅکي ځي نو په بيان شوې طريقه به ورته عمل کول وي.
د چا نه چې هم څاڅکي ځي يا يو داسې عذر وي د کوم سره چې بيا بيا
اودس ماتيږي، د دې پوره طريقې زده کولو د پاره زما کتاب ”نماز کے
احکام“ کښې موجوده رساله ” وضو کا طریقه“ صفحه 42 نه 45 پورې اولولئ.

(ملفوظات امیرِ اهلِسنت ، قسط: 137، ص 18)

سُوال: که چرې لوښي کښې آیتونه لیکلے شوي وي نو په هغې کښې خوراک کولے شي؟

جواب: نشي کولے. البته په اوداسه کښې د شِفا په نیت هغه لوښي کښې د اوبو اچولو سره څښلے شي. د اودس ماتیدو په صورت کښې آیتونو ته لاس نشي وروړے.[1] (ملفوظات امیرِ اهلِسنت 3 / 300)

سُوال: ترین [یعني ریل ګاډي] کښې واش روم صفا نه وي نو لمُونځ به څنګه کوو؟ اودس به څنګه کیږي او تیمم به څنګه کوو؟

جواب: ریل ګاډي کښې واش روم خراب وي خو هر وخت خراب نه وي نو د کور واش روم هم خرابیږي. د واش روم په طرفونو کښې چې کومې اوبه ولاړې وي د دې د ناپاکه کیدو په باره کښې چې تر څو یقیني معلومات نه وي مونږه هغې ته ناپاکه نه شو وئیلے ځکه که چرې د اودس د پاره بل ځائے نه وي نو هلته مجبوراً اودس کیدے شي. غالباً د ریل ګاډي فرسټ کلاس کښې خو د واش روم نه بهر بیسن هم وي یا کیدے شي ما بهر

[1] ... صدرُ الشریعه مولانا مفتي محمد اَمجَد علي اعظميرحمةُاللهِعليه فرمائي: په کوم لوښي یا ګلاس باندې سورت یا آیت اولیکو د هغې سره لاس لګول هم د ( بے اودسه، جُنُب او حیض او نفاس والا) له حرام دي او د دې استعمال د ټولو د پاره مکروه دے، خو ولې که چرې خاص د شِفا په نیت سره وي. (بهار شریعت، 327/1، حصه: 2مفهوماً)

ملکونو کښې داسې لیدلي وي د دې ځائے پته راته نشته ځکه چې ما ډیره موده ریل ګاډي کښې سفر نه دے کړے. بهر حال د لمُونځ د پاره به اودس کول وي، ریل ګاډي کښې هم لمُونځ نه معاف کیږي او که اوبه وي نو بیا تیمم هم جائز نه دے. په سفر کښې دې انسان ځان سره لوټه یا بل یو لوښے ساتي چې دغه شان اودس اوکړي او د لمُونځ انتظام اوکړے شي. یاد ساتئ! ځنګه چې د دائمي مریض یعني د چا چې د دوائې نه بغیر ګزاره نه کیږي هغه ځان سره خپلې دوایاني ساتي. داسې لمُونځ هم زمونږ د پاره د روح خوراک دے نو د دې هم ټول انتظام کولو سره د ځان سره ایښودل پکار دي.

( په دې موقع رکنِ شوریٰ اوفرمائیل:) که چرې د ریل ګاډي په یوه ډبه کښې واش روم صحیح نه وي نو په بله یوه ډبه کښې صحیح واش روم میلاویدے شي نو داسې د لږ شان کوشش کولو سره د طهارت [یعني پاک والي] مسئله حل کیدے شي.

(امیرِ اهلِسنت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَهۡ اوفرمائیل:) که جذبه وي نو هر څه کیدے شي. ځنګه چې مونږه هره ورځ خوراک کوو نو د دې د مخکښې نه انتظام کوو او دې د پاره ئې ګټو هم. داسې نه کیږي چې د خوراک وخت شي او لوږه لګیدلې وي او اوس ګټه شروع کړو او بیا ئې واخلو او پاخه ئې کړو بلکه خوک د لوږې انتظار نه کوي د مخکښې نه ټول انتظام کولے شي

چې خوراک وخت په وخت میلاویږي خو لمُونځ کوم چې د ټولو اهم عبادت دے د هغې د پاره د مخکښې نه مونږه اهتمام نه کوو او نه تیارے کوو او نه د تیارئ ذهن وي. دا حال هم د هغه خلقو دے څوک چې لمُونځ کوي او څوک ئې چې نه کوي هغوئې خو هسې هم لمُونځ نه کوي حالانکه داسې پکار ده چې هر وخت د بنده سره د لمُونځ فکر وي چې د لمُونځ به څه کیږي او د دې اهتمام به څنګه کیږي؟ یعني بنده چې هر ځائے کښې وي د هغه زړه جُمات سره تړلے وي او سر ئې چې هر ځائے کښې وي د الله پاک په دربار کښې تیټ وي او کاش! چې مسلمان له څنګه لمُونځ ګزاره پکار دي مونږه هغه شان لمُونځ کوونکي جوړ شو. (ملفوظات امیرِ اهلِسنت ، 500/2)

سُوال: آیا بچي له د پئیو ورکولو سره د زنانه اودس ماتیږي؟

جواب: بچي ته پئي ورکول نواقضِ وُضُو [یعني هغه څیزونه کوم چې اودس ماتوي هغې] کښې نه دي څکه بچي ته د پئیو ورکولو سره د زنانه اودس نه ماتیږي. (فیضانِ مدنی مذاکره، قسط نمبر 20، ص 39)

سُوال: آیا که د اوبو څښلو په وخت د ګیرې یا بریتو ویښته دې کښې پریوځي نو هغه اوبه به د استعمال قابلې وي؟

جواب: آؤ جي! که د ګیرې او د بریتو ویښته وینځلے شوي نه وي یعني د هغې د وینځلو نه پس اودس ماتوونکے داسې څه عمل نه وي شوے نو د دې په اوبو کښې د پریوتو سره هغه اوبه د استعمال قابلې دي یعني اوس هغه اوبه د اودس قابلې دي " د دې څښل مکروهِ تنزیهي دي." (فتاویٰ رضویه، 122/2) البته که څوک دغه استعمال شوې اوبه اوڅښي نو ګنهګارېږي به نه ځکه دا توئ کول نه دي پکار بلکه دا اوبه دې د څه څيز د وینځلو د پاره استعمال کړے شي. که چرې دې اوبو کښې د دې د مقدار نه زیاتې غیر مستعمل (یعني کومو اوبو کښې چې ویښته نه وي پریوتے) اوبه میلاؤ کړے شي نو دې سره د میلاویدو نه پس به دغه اوبه هم د استعمال قابلې شي یعني اوس د دې څښلو یا په دې اودس کولو کښې هیڅ باک نشته.

(ملفوظاتِ امیرِ اهلِسنت، 208/1)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

## نیک او لمونځ گزاره جوړیدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کیدونکې د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نِیَّتونو سره توله شپه تیروئ ❁ د سُنَّتو د تربِیَّت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د **"فِکرِ مَدِینه"** په ذريعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ځائے ذِمَّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي."** اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "مَدَني انعاماتو" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "مَدَني قافِلو" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ







فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com